



Download from:aghalibrary.cm

د کمپیوټر دزده کړي لړۍ (۲):

# دهارډویر زده کړه

*دپرزو پېژندنه او استعمال
*انسټالیشن
*پارټیشن
*د ډرایورونو انسټالول
*وینډوز سیون

انجنیر عبدالباسط "ریان"

**دچاپ حق خوندي دی.**

## کتاب پېژندنه:

نوم:دهارډوپر زده کړه

لیکوال:انجنیر عبدالباسط "ریان"

کمپوز:ریان علمي مرکز

انلاین چاري : سهار انلاین ټکی نیټ

www.saharonline.net


خپرندوی:صدیقي خپرندویه ټولنه

چاپ کال:۱۳۹۰هـ ل

دموندني ځایونه:

**۱- صدیقي کتاب پلورنځی،کاسي روډ،کوټه.**

**۲- صدیقي کتاب پلورنځی ،ارګ بازار،کندهار.**



### دالحکیم ذات په سپېڅلي نامه

# برخي تولي ازلي دي

افغانستان اشغال و، امريکايان متجاوزين او افغانان مظلومان وو. دمرميو او بمونو ترڅنګ په کورونو او محبسونو کي په سپيو هم داړل کيدل، بندي کول، وهل ،شهيدان کول او هجرت ته اړ ايستل دروسي اشغال ددور تکرار و...

خو دننه دپرديو مزدورانو په ډالرو لوبي کولې او په هجرت کي داشغال دښمنانو دکور کرايه په استخاره پيدا کوله. ماهم دامريکايي اشغال ددښمني په او دې لاره کي دهجرت شرف درلود. په دې ناخوالو کي له نورو سره ګډ وم چي يوه خواخوږي مي په حال شفقت وکړ ،راته يې وويل :"فلانی رېړی په کرايه ورکوي، ديوې رېړی مياشتنۍ کرايه درې سوه پاکستاني روپۍ دي، زامنو ته دي هغه په کرايه کړه،پياز او کچالو به خرڅوي او دکور ګذاره به دي ورباندي کېږي..."

داخبره ماته غير مترقبه وه، ذهناً يې اورېدلو ته چمتو نه وم، چرت مي پکښې وهلی نه و ،سخته ستغه رابانـدي ولګېدله،نژدې مي يو بې ادبه حرکت کړی و او دده شفقت مي په غضب ورته ځواب کړی و ، خو الله تعالی مي پرده وکړه. په خورا ادب سره مي ورته وويل: وروره! ته خير يوسي،دامشوره دي ،زما په حال مهرباني ده خو غيور خدای دي زما په ژوند زما زامن درېړی ترشا نه دروي.

رېړی ګرځول نه عيب دی او نه عار؛ بلکي دخپل لاس ګټه ده او پاکه روزي. خو ماته معلوميده چي الله تعالی راته ذهين زامن راکړي دي، که يوځل دپيازو په خرڅولو اخته سول ،بيا به نه ددين خدمت وکړای سي او نه هم دخدای جل جلاله دمخلوق.

دریږی روزي مي ورته خوښه نه سوه. خو الله تعالی داسي اسباب برابر کړل چي په ژباړو ،لیکنو او کمپیوټري کارونو قوت لایموت روزي برابریدله. نن سبا له هغې ورځي را په دې خوا زما له کوره ترپنځوس ټوکه زیات کتابونه خپاره سول ،په هغوی کي زه او زمازامن ګډ ویاړلرو.

له یوه لوري الله تعالی شریف کسب (ژباړه ،لیکنه او فرهنګي کارونه) راپه برخه کړل او له بلي خوا مو دهر کتاب په خپرولو خلکو ته ګټه ورسیدله. دادخدای جل جلاله ورکړه ده.

رښتیا هم برخي ټولي ازلي دي –نه په زور نه په زاري دي.

که زمونږ دعقل او وس خبره وای نو هغه دریږی خبره به مو عملي کوله. خو حکیم خدای جل جلاله په هر کار کي حکمت لري. دچا په هجرت کي امن او ډاډ په برخه وي او څوک دوزارت په چوکۍ کي ارام نلري. څوک په زاړه بایسکل ډاډه زړه خپل کور ته روان وي خو څوک دهم هغه کال په ماډل موټر کي له خړي ځمکي ډاریږي،څوک په تش لاس دخدمت جوګه سي او څوک په ډک لاس دخیانت مرتکب او ...

په هر حال،داکتاب مي ددوهم زوی عبدالباسط ریان دریم کتاب دی، چي چاپیږي. نیک فالي خو یې لا داده چي دکتاب له بشپړولو سره سم یې لومړی اولاد ،لور هم وزیږیدله. رښتیا که زه مي په یوه سترګه همدې لمسۍ ته وګورم او په بله همدې کتاب ته ، دخوشحالي په توپیر یې نه پوهیږم...

الله تعالی ته لاس په دعا یم چي عبدالباسط ته دلانور خدمت توفیق ورکړي او لوستونکي ورڅخه مثبته ګټه ترلاسه کړي.

مثبته په دې معنی چي داکتاب دکمپیوټر په هکله دی او زما دیوه شهید اشنا په خبره ،مونږ دتخنیک له هر اړخ څخه منفي استفاده کوو. په کمپیوټر کي هم هسي دسي ډي استعمال زده کوو ،له نورو علمي پروګرامونو څخه یې ځان خبرولای نسوای. والسلام

عبدالله ګل ریان

۱۴۳۳/۲/۱۹هق
۱۳۹۰/۱۰/۲۴هش

# سریزه

دکمپیوټر دزده کړې دلړۍ دوهم کتاب مو په لاس کې دی.

له وړکتوبه مې دلیکنې سره ځانګړې علاقه نه درلوده، د تعلیم په دوره کې مې هم کومه لیکنه کړې نه ده. کله چې مې دپوهنتون له فراغت وروسته دکمپیوټرو پلورنځی راوپرانیست او ترڅنګ مې یې دکمپیوټرونو جوړول پیل کړل،زیات وګړي به راتلل او دخپل کمپیوټر له مشکل او یا خرابۍ به یې سرټکاوو او بیا به یې غوښتل چې دلیکنې په بڼه یې سموالی وروښیم.ماهم تر خپل وس او توان پورې ورسره مرسته کوله، بل ځل چې به مې هغه کس ولید ډېر به خوښ برېښېده ،ځینو خو به ټلیفونونه کول او دکمپیوټر دخرابۍ ،دسمولو طریقې به یې پوښتلې.په دې خلکو کې اکثره داسې هم وو چې په نورو کورسونو کې به یې زده کړه کوله.دوی به ویل ،په کورس کې موږ ډېرې پوښتنې نه شو کولای، وخت کم وي او استاد له نورو شاګردانو سره مصروف وي.ځینو بیا اقتصادي مشکلات درلودل ،دکورسونو لوړ فیسونه به یې نه شوای ورکولای.نورو به ویل چې زموږ عمراوس زیات دی، کورس ته ورتلای نشو ، ددې مشکلاتو په لیدو مې هوډ وکړ ترڅو دهارډوېر او کمپیوټر دپرزو

دپېژندني لپاره داسي يو کتاب ترتيب کړم چې ډېر عام فهمه وي او هر کس ترې ګټه واخلي، همدې ته په کتنه مي پکي زيار ايستلی او هڅه مې کړې چي انځورونه ډېر اوروښانه ځاي پرځاي کړم .له انځور څخه هر ډول خلک ګټه اخستلاي شي اوبل زماپه اند ديو عمل ترډير تشريح کولو دهغه عمل يو ځل ليدل غوره دي، بل مې مروج اصطلاحات استعمال کړي.دبيلګې په ډول ماوس، دماوس معني موږک دی، په پښتوکې بايد موږک ليکل شوي وای، داچې هيڅوک دموږک کلمه نه استعمالوي، نو که چېري ما دموږک لفظ استعمال کړی وای،پوهيدلو کي مشکل منځته راته او ددې ترڅنګ د موضوع دزده کړې په مهال دموضوع د حل پرځاي په غيرمروجه کلمه کې ذهن بنديده اوموضوع ورته مغلقه کيده .همدا څه و، چي له هغو اصطلاحاتو مي کاروا خيست چې خلک يې استعمالوي.

په پای کې له بشيراحمدريان څخه ډېره مننه کوم چې ادبې بڼه يې ورسمه کړه .

والسلام

انجنير عبدالباسط ريان

کوټه

۲۰۱۲/۱/۱۶

## ډالۍ:

دملت هغو بچيانو ته چي دنورو ډګرونو ترڅنګ يې په ساينسي ډګر کي هم ددين خدمت ته ليځي رانغښتې دي.

# لومــــړی

# برخــــــــــه

# لړليک

مايکروکمپيوټر .......................................... 21
هارډوير (Hard Ware) .......................................... 21
ماوس .......................................... 22
دماوس ډولونه .......................................... 23
کي بورډ .......................................... 23
جواى سټيک .......................................... 24
سکينر .......................................... 25
مايکروفون .......................................... 26
داوټ پوټ الي Out put device .......................................... 27
پرينټر .......................................... 28
ډاټ ميټريکس پرينټر .......................................... 29
انک جيټ پرينټر .......................................... 29
لايزر جيټ پرينټر .......................................... 30
چوکاټونه (سلاټونه) .......................................... 33
Bit (بيټ) .......................................... 37
Hard Drive (هارډ ډرايو) .......................................... 37
دهارډيسک وصلول په کېس (Case) کي .......................................... 38
دسي ډي روم وصلول .......................................... 44
IDE1-1: .......................................... 46
IDE-2: .......................................... 46

جمپر(Jumper) ........................................ 46
ساونډ کارډ(د اواز کارډ)............................. 48
دساونډ کارت ډولونه................................. 48
دنن بلټ این ساونډکارډلګول ........................ 49
ډیسپلې پورټ........................................ 49
Processor(پروسیسر) ................................ 56
پاورسپلایي(Power supply unit)..................... 57

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

## دکمپیوټر ډولونه

کمپیوټر مختلف ډولونه لري چي دبیلا- بیلو مقاصدو لپاره ورڅخه کاراخستل کیږی. کوم کمپیوټرچي موږ اوتاسي ورڅخه کاراخلو دمایکرو کمپیوټرپه نوم سره یادیږي.

## مایکروکمپیوټر

داچـي دمایکروکمپیوټرقیمـت نسـبت نوروکمپیوټرونو تـه ارازانـه اوجسـامت یـې کـوچنی دی، پـه دې خـاطریې استعمال زیات دی اوشخصي کمپیوټر(PC)هم ورته وایي.

## هارډویر (Hard Ware)

۱-دکمپیوټرفزیکي برخي ته هارډویربلل کیږي.

۲-دکمپیـوټرهره برخـه چې قابـل دلمـس وي عبـارت دی لـه: هـارډویر څخـه.دمثال پـه ډول سـي ډي روم(CD room)، رېـم (Ram)،مانیټر(Monitor)اوداسي نور...

## دشخصي کمپیوټردهارډوېربرخي

**(این پوټ،اوټ پوټ الې)**In put /out put Devices

این پوټ الې دداخلوونکي په معنی دي. دایـن پـوټ الاتوپـه واسطه موږ کمپیوټر(CPU) ته مواد وردخلولای شو.دمثال په

ډول کیبورډ: دکیبورډ په واسطه CPU (کمپیوټر) ته توري او اعداد داخلیږي.

اوټ پوټ الي دخارجوونکو په معنی دي.داوټ پوټ الاتو په واسطه کمپیوټر ته دداخل شوومواد و نتیجه خارجولای شوو.دبیلګي په ډول پرینټرچي له CPUڅخه لیکل شوی خط په کاغذباندې راباسي.


**این پوټ الات په لاندي ډول دي :**

## ماوس

ماوس این پوټ آله ګڼل کیږي، چې په لاس کې نیول کیږي.دوه یادري تڼې لري اولاندني خواته یې دتوپ په ډول کوچنی اله اویاهم دلایزرشعاع وي،ماوس ته په حرکت ورکولو سره په سکرین کوچني نښان په حرکت راځي چي دتڼې په کیکاږلوسره موږکولای شوپروګرام بندیاخلاص کړو، سافټ وېرانسټال کړو، سافټ وېرله منځه یوسو او همدا ډول دماوس په واسطه موږکولای شو بیلا-بیلي دندي ترسره کړو.





## دماوس ډولونه




## کي بورډ

کي بورډ داين پوټ الاتو له جملې څخه دی، چي په منظم ډول په تخته تنې نصب شوي دي. دهرتنۍ په کېکاږلو سره CPUته مواد داخليږي او په بله اصطلاح دکيبورډ په واسطه کمپيوټر(CPU)ته ليکل ورداخلېږي او دماوس کارهم ورڅخه اخيستل کيږي. مختلف ډولونه لري.







## جواى سټيک

جواى سټيک داين پوټ اله ده. په جواسټيک باندي څوتنۍ اوګيرونه وي چي په ګيمونو کي تري کاراخيستل کېږي. ترکېبورد او ماوس يي کارپه زړه پوري وي، دجواسټيک په واسطه کرسرډېرتيزحرکت کوي.




## سکینر

سکینردفوټوکاپي دماشین په څېردانځوراویابل فایل کاپي اخلي، خوفرق یې په دې کې دی چې دفوټوکاپي ماشین کاپي په کاغذاخلي خوسکینرکاپي کمپیوټرته وردننه کوي. کله که غواړو چې کوم انځورله کوم فایل سره شریک کړو یافکس کړو ،یاغواړوچې دبریښنالیک په واسطه یې ولېږو ،له سکینرڅخه کاراخلو.




## مایکروفون

مایکروفون این پوټ اله ده. مایکروفون دساونډ کارت په واسطه له کمپیوټر سره وصلېږي، د مایکروفون په ذریعه کمپیوټر کي موږ خپل غږ او یا کوم بل غږ ثبت کولای شو او همدا ډول د ځانګړي سافټ وېر په درلودلو د غږ په واسطه په کمپیوټر کي کارهم ترسره کولای شو. د بېلګي په ډول که چیری موغوښتل په کمپیوټر کي د مایک په ذریعه لیکل وکړو په مایک کي وایو ،Book. په کمپیوټر کي په خلاص شوي پروګرام کي د Bookلغات لیکل کیږي ،خو تردې مهاله د پښتو لپاره دا سافټ وېر جوړ شوی نه دی.



**داوټ پوټ الې** Out put device

**مونېټر** Monitor

مونېټر داوټ پوټ الاتو له جملې څخه دی.کوم کارونه چې مورېپه کمپیوټرکې کوو ،هغه مورږ دمونیټرپه واسطه لیدلای شو. مونېټرمختلف ډولونه لري، دبیلګي په ډول:

CRT Monitor
CRT Plat monitor
Plasma monitor



## پرینټر

پرینټر داوپوټ الاتو څخه دی،چې له کمپیوټر څخه په کاغذ باندې خط اویاانځورونه راباسي. پرینټرمختلف ډولونه لري چې په مختلفو طریقوله کمپیوټرسره وصلیږي: دیوایس بي ،سیریل پورټ ،پیرالل پورټ اودوایرلیس له لاري.

## دپرنیټر ډولونه :

- ډاټ میټریکس پرینټر

- انک جیټ پرینټر
- لَایزرجیټ پرینټر

## ډاټ میټریکس پرینټر

داډول پرینټــر ډیرپخــوانی دی، دټایپیســـتي دماشـــین پـــه څېـردی ،کـاريږ ورو وي، دچـاپ نتیجـه يـې روښـانه نـه ده او دقیمت له اړخه ارزانه دی.




## اِنک جیټ پرینټر

انــک جیــټ پرنیټرتــهَ مــایع رنــګ ورلوېږي، کـاريږ نظـر، لایزرپرینټرونوتـــه ورو دی.خوپرینـــټ يـــې ډ ېـــر روښـــانه وي. درنګین پرینټرونواستعمال زیات دی ،ښه کاغذ باید پکـي استعمال کړو ،که چیري کمزوری کاغذاستعمال کړو، تـوري سره ګډ یږي.له دې ډول پرینټرونوسره عموماً خپل سافټ ویر راځي چې په اساني سره دهغـه پـه وسـیله دښـادۍ دمراسمو کارتونـه،تجارتي کارتونـه اوبلنلیکونـه جوړولای شـو. داډول پرینټر هم ارزانه وي.




## لایزرجیټ پرینټر

ددې ډول پرینټرونوپرینټ ډېر تیز دی، یعني په کم وخت کې ډیري پاڼي پرینټولای شي.پرینټ یې هم ډېر روښانه دی. په دې ډول پرینټرونوکې دیوګرد پیپ په څېراله راځي، چې دتوروپوډروپه څېررنګ ورلویږي او ډرم نومېږي.ددا ډول پرینټرونوبیه لوړه ده.دپرینټرونوپه دې ډول کې رنګین پرینټرونه هم شته .چې دقیمت له نګاه څخه ترنورو پرینټرونو قیمتي دي.




# مـــــادربورد(Motherboard)

مادربورد د کمپیوټر هغه اساسي تخته ده چې په هغې باندې د کمپیوټر نوري برخي نصب شوي دي، یا دیوې پټۍ یا پټۍ ته ورته سیم په ذریعه د مادربوردله تختۍ سره ارتباط لري.لکه:Ram(ریم) ، Harddisk (هارډیسک) ،CD Rom(سي ډي روم)...




دمادربورډ کېس(د CPU شاتنۍ برخه) بهرنی طرف ته هم پورټونه یاغارونه لري ،چې دماوس ، کیبورد ،پرینټر ،سکینراو یو ایس بی الې ورته وصلیږي.



PS/2 Keyboard Connector
PS/2 Mouse Connector
USB Ports
Serial Communications Port
Parallel Port
VGA Port
Gigabit RJ-45
Ethernet LAN Port
Audio Out Jack
Microphone Jack
Line In Jack

# چوکاټونه (سلاټونه)


په مادربورډ دربېم دچوکاټوبغیرنورچوکاټونه هم راځي. لکه
PCI slot, AGP Slot, PCI- Express Slot…:




PCI Slot: د PCI چوکاټونه سپین ته ورته دي چې په هرډول ماډربورډ کې راځي. ساونډکارډ، ټي وي کارډ، لن کارډ، موډیم، یوایس بي پورټ کارډ، او د VGA کارډ ورلګېږي. د دې کارډونو دلګېدلو په وخت کې باید کمپیوټر بند وي.




AGP Slot: د AGPچوکاټ په هرمادربورډ کې نه وي. معمولاًپه ښومادربورډونوکې دAGPچوکاټ راځي،دې چوکاټ ته یوازې AGPکارډ لګېږي، AGP کارډ د ډسپلې لپاره کارورکوي اوهمداډول دګرافیک لپاره بهترین کارکوي.



PCI-Express Slot: PCI ایکسپریس چوکاټ په لوړو مادر بورډونو کې راځي، د بېلګې په توګه پینتیم پوراو تر هغه لوړو مادربورډونو کې.

## د مادربورډ اجزاوي :

- ساونډ كارت (دغږ كارت)
- هارډيسک
- پروسيسر
- فلاپي ډسک
- رېم
- پاورسپلايي
- سي ډي روم
- ډي وي ډي روم
- سي ډي رايټر
- ډي وي ډي رايټر
- نيټ ورک انټرفيس كارت

## لومړی باید دا وپیژنو:

Bit (بیټ)

یو حرف یا توري ته Byte(بایټ)ویل کیږي او یو بایټ اته Bit بیټه کیږي.ا ،ټ، ځ، A,3 توري او یا په کیبورډ کي د Spaceبټن عبارت دي له یو بایټ څخه.

په همدې ترتیب:

- 8Bit =1Byte بایټ
- 1024 Byte=1KB یو کیلوبایټ
- 1024 KB =1MB میګابایټ
- 1024 MB =1GB ګیګابایټ
- 1024 GB =1TB (تیرابایټ)

## Hard Drive (هارډ ډرایو)

هارډ ډرایو یا هارډیسک د کمپیوټر له مهمو برخو څخه دی چي د موادو(ډاټا ) د ذخیره کیدلو وسیله ده.لکه:انځورنه ، فلمونه،خطونه.او همدا رنګه دا پریټنګ سیستم لپاره استعمالیږي، د بیلګي په ډول ویندوز ۹۸ ، ویندوز ایکسفي،ویندز ۷ او دا سي نور... او همدا ډول پروګرامونه هم په

هارډيسک کې ذخيره کېږي. تر دې دمه هارډيسکونه له ۱۰ايم بي نيولي تر ۲۰۰۰جي بي پورې راغلي دي.

## دهارډيسکونوډولونه :








## دهارډيسک وصلول په کېس(Case) کې

دهارډیسک ځای په کیس کې فرق لري.خو په اکثرو کیسونو کې دکیس دمخې لوري په لاندي برخه کې وي .



دهارډیسک دوصلولو لپاره لومړی دهارډیسک ځای ته ګورو ،چې دهارډیسک په اندازه دی اوکه لوی دی. که چیري دهارډیسک تر اندازې لوی وي په دې صورت کې په اکثروکیسونو کې خاص پلاستیکي اویااوسپنیز الات راځي،لومړی هغه په هارډیسک پوري تړو اوبیاهارډیسک په خپل ځای کې ایږدو.

دوهم:که چیري هارډیسک په خپل ځای کې برابره وو ، نوپه دې صورت کې هارډیسک دپیچونو (نټونو ) په واسطه له کیس سره وصلوو.کله چې موهارډیسک له caseسره وصل کړ،بیادوه کیبلونه چې یوله مادربورډ سره وصل وی اوبل له پاورسپلایي څخه راغلی وی، له هارډیسک سره هم وصل

کوو .يوې خبري ته مو بايد پام وي کله چې له هارډيسک سره کيبلونه وصلوو بايد په دې وخت کې برق له کمپيوټر سره په ارتباط کې نه وي .

Compact Disk Read Only )(**سي ډي روم**) CDROM :(Memory

سي ډي روم هم يوډول ميموري دى.يوازي سي ډي ويلاي شي. په سي ډيانو کي فلمونه ،انځورنه اوپروګرامونه راځي.




CD Writer (**سي ډي رايټر**): سي ډي رايټر سي ډى ويلاى اوجوړولاى شي.که چېري سي ډي خالي وي يعني مواد پکي ځاى پرځاى سوى نه وي ، موږکولاى شودسي ډي رايټر په واسطه مواد په سي ډى کي رايټ کړو.يعني کله چي خالي سي ډي ، رايټرته ورننه کړوپه دې خالي سي ډي کي له کمپيوټرڅخه موږتر MB٧٠٠ ايم بي پوري ډاټا(مواد ) ځاى پرځاى کولاى شوو.




DVD ROM(**ډي وي ډي روم**)( Digital Video Disk
Read Only Memory):ډي وي ډي روم، ډي وي ډي اوسي
ډي دواړه ویلای شي. په ډي وي ډي کي ترسي ډیانو ډیره ډاټا
راتلای سي. یوه ډي وي ډي تقریباً ۴،۷جي بي څخه نیولي
بیاتر۲۰GBجي بي پوري راغلي.




DVD Writer(**ډي وي ډي رایټر**): ډي وي ډي رایټر، سي
ډي اوډي وي ډي دواړه ويلای شي اوهم په سي ډي اوډي وي
ډي کې مواد ځای پرځای کولای شي.




يادونه:موږدوه ډوله سي ډي اوډي وي ډي لرو:

CD/R : په سي ډی آر سي ډيانو کي يوځل مواد ځای پرځای کيږي .يعني يوځل چي موکومه ډاټا (مواد ) پکي داخل کړو هغه مواد بيرته نشوخرابولای.




CD/RW: په (سي ډي آر ډبليو ) سي ډيانوکي موږ کولای شو مواد ور نقل کړواوبیرته یي خرابه کړو اوبیانور مواد ورنقل کړو .




DVD/R : (ډي وي ډي آر ) دسي ډي آرپه څیر دي، خوترسي ډي آر زیاته ډاټانیسي.




DVD/RW: (ډي وي ډي آر ډبليو ) د سي ډي آر ډبليو په خيردي خو ترهغه زياته ډاټا نيسي.





## دسي ډي روم وصلول

سی ډي روم هم دهارډيسک په څيرلومړي په کيس کې بندواوبيا کيبلونه ورته وصلوو.

# IDE (Integrated Drive Electronic)

# دالکترونيکي ډرايونويوځای کيدل

په مادربودرکي دوه چوکاټونه ليدل کېږي، په هرچوکاټ کي ۴۰ستني په دوو قطاروکې وي، يعني په هر قطارکې ۲۰،۲۰ستني وي. لومړی چوکاټ IDE1دی اودوهم چوکاټ IDE2دی. په دواړو چوکاټو کي موږکولای شو تر ځلور الو پوري الې وصل کړويعني په يوه چوکاټ کي دوه الې. دبيلګې په ډول، دوه سي ډی رومونه يادوه هارډيسکونه اويايوسي ډي روم او يو هارډيسک موږکولاي شو،په يووخت يوه چوکاټ ته وصل کړو.




## IDE دوصلولوکيبل

ددسي ډي روم اوياهارډيسک دوصلولولپاره کيبل ته ضرورت شته چي هغه عبارت دی له IDEکيبل ځخه

اوهمداډول سي ډي رايټر، اوډي وي ډي رايټر دوصلولو لپاره هم استعماليږي.



:IDE1-1

IDE-1 دپرايمري ډرايونولپاره استعماليږي اودوي برخي لري:

١- Primary Master (پرايمري ماسټر)

2 - Primary Slave (پرايمري)

:IDE-2

IDE-2د Secondary سيکندري ډرايونولپاره استعماليږي اودوي برخي لري:

١- Secondary Master (سکندري ماسټر)

٢- Secondary Slave (سيکندري سليو)

## جمپر (Jumper)

جمپرکوچنی پلاستکي پوښ دی،چې دهارډيسک او سي ډي روم دبرق اوايډي کيبل ترمنځ دری ياڅلورجوړي ستنوله

جملې دوو ستنو ته ورپوښ شوي وي.که چیري جمپر صحیح ستنوته نه وي وراغوستل شوی، هارډیسک اویا سي ډي روم په کمپیوټرکې کارنه کوي.

دجمپرلومړی انتخاب:که چیري موکمپیوټر ته یو هارډیسک اویوسي ډي روم وصل کاوو.په دې صورت کې هارډیسک ID1چوکاټ ته دکیبل په سرکې چې په پرایمري صفرPrimary0 کې راځي،وصلوو.دهارډیسک جمپر بایدپه ماسټرستنوکې ورکړل شي د ماسټر ستنو انتخاب معمولاً په هارډیسک اوسی ډي روم کې په دې ترتیب په نښه شوی وي.

MA=Master


SL=Slave

CS=Cable Select

که چیري نه وي په نښه شوي، معمولاًدډاټا کیبل لورته ستني دماسټروي .سی ډي روم په دوهم چوکاټ (IDE2)چوکاټ کې دهارډیسک په څیروصلوو اوجمپریې هم په ماسټرستنوکې ورکوو.

دجمپردوهم انتخاب:که چیري موپه یوه چوکاټ کې دوه الې وصل کولې،دبیلګې په ډول،غوښتل مو دوه هارډیسکونه کمپیوټرته وصل کړو ،نوپه دې صورت کې په کوم هارډیسک کې چې مووینډوز انسټال کړي وي او یا غواړو چې پکې انسټال یې کړو ،هغه هارډیسک په IDE1 چوکاټ کې

دکیبل په لومړی برخه کې چې پرایمري صفرورته وایي وصلوواوجمپریې ماسټرکوو.
دوهم هارډډیسک هم، په IDE1چوکاټ کې خودکیبل په دوهمه برخه کې چې په پرایمري١(Primary1)برخه کې راځي وصلوو اوجمپریې دسلیوSalveپه ستنوکې ورکوو.دسلیوستني په هارډډیسک کې په نښه شوی وي، که چیري نه وي په نښه شوي معمولاًدهارډیسک دپاوریابرق کیبل طرف ته دسلیوستني وي.
**ددوو سي ډي رومونووصلولو**:دوه سي ډي رومونه په دوهم چوکاټ (IDE2) کې وصلیږي،دیوه جمپر ماسټر او دبل سلیوکیږي،دهارډیسکونو په څېر.
## ساونډ کارډ(د اواز کارډ)
ساونډکارډدغږ ایستلولپاره استعمالیږي، که چیري په کمپیوټرکې ساونډکارډ نه وي له کمپیوټر څخه غږنه راوزي، دمثال په ډول فلم ،ګیم ،غږ نه کوي.
## دساونډ کارت ډولونه
Bullet-inonboard: داډول ساونډ کارډونه په مادربورډ کې بند وي، مطلب له مادربورډ څخه بیله کومه پرزه نه ده، بلکې دمادربورد یوجزء وي.
Non Bullet-in(نن بلټ این):داډول ساونډ کارد بیله پرزه راځي چې د مادرپه PCIاو ISA خالي چوکاټونو کې لګېږي.




## دننبلټ اين ساونډكارډلګول

دا ډول ساونډ كارد ،دمادربورډ په شاتنۍ برخه کې دډسپلي كارډ څنګ ته لګېږي. په کوم سلاټ یا چوكاټ چې ساونډ كارډلګول كېږي، دهغه چوكاټ مقابل ته پترۍ لګيدلي وي، لومړی هغه خلاصوو بيا ساونډ كارډلګوو.په ساونډ كارډ کې معمولاً درې سوري وي، يو د غږ ايستلو ، بل دغږننو تلو او بل دمايک لپاره وي.په اكثرو ساونډ كارډونو کي يوبل پورټ هم راځي چې MIDIپورټ يا ګيم پورټ ورته ويل کېږي.

## ډیسپلې پورټ

ډيسپلي پورټ مونيټراو سی پي يو ،سره وصلوي.يعني سي پي يوکې چې كوم عمل ترسره كېږي،هغه عمل دډېسپلي پورټ ياVGAپورټ په واسطه په مونيټرکې ښكاره كېږي ..ډېسپلي پورټ مختلف ډولونه لري:

Bullet-in Board (بلټ اين بورډ )

Non Bullet-in board (نن بلټ اين بورډ )

**نن بلټ اين بورډ څوډله لري :**

۱-PCI VGA Card: دا کارډ ،خلک په هغو مادر بورډونو کې لګوي چې AGP چوکاټ نه لري.په PCI چوکاټ کې لګېږي او په دې کارډونو کې دلوړې ايم بي وال نه راځي.



۲-AGP:AGP Card کارډ په AGP چوکاټ کې لګېږي، له ۴ ايم بي څخه بيا تر۵۱۲ ايم بي راغلي دي. دګرافيک اوګيمونو لپاره بهترين کارکوي.





۳-PCI-Express Card: PCI ایکسپریس کارډ په PCI-Express چوکاټ کې لګېږي او ډېر لوړ کارډونو پکښې راځي، تقریباً تر ۲جي بي پوري کارډونه شته دي.




**(Random Access memory) Ram (موقته میموري):**

ربم په مادربورد کې نصبېږي، که چیري په کمپیوټرکي ربم نه وي، کمپیوټر Display ډیسپلې نه ورکوي، یعني په مونیټرشی نــه ښــکاره کــوي او همــدا ډول ربــم باید د پروسیســر مطــابق ورواچول شي. د پروسیسر پــه شــا بانــدي لیکل شوی وي چې څومره ربم تــه ضــرورت لــري، ترهغــه زیــات خاصــه ګټــه نــه لــري او ترهغه کم د کمپیوټر تیزوالی کموي. که چېري په کمپیوټرکي ربم نه وي، کمپیوټر دري زنګونه وهي.


**یادونه**: کلــه چي ربــم پــه مــادربورکي نصبوو: لــومړی باید لــه مادربورد څخه بریښنا قطع کړو او بیا ربم پکښي نصب کړو. ربــم باید غلط نصب نشي، که چېري ربم چپ نصب کړو او یــا یې پــه مادربورد کي دبرق دجریــان پــه وخت کي نصب کړو، نو پــه دي صورت کي ربم او یا هم مادربورد سوځي.




## ریم مختلف ډولونه لري :




SIMMریم: دا ډول ریمونه یوازي په Pentium1 (اول پینتیم) کي استعمالیدل او تر۳۲ایم بي زیات نه پکښي راتلل.




SDRam (**ایس ډي رېم**): دا ډول رېمونه په دوهم پينټيم، دريم پينټيم ،اوڅلورم پينټيم کي استعماليږي.له ۳۲ايم بي څخه تر**۵۱۲**ايم بي پوري راځي.




DDR **رېم**:ډي ډي ار ريم په دريم ،څلورم اوترڅلورم پينټم لوړو کمپيوټرونوکي استعماليږي.**۲۴**ايم بی څخه تر۲GBجي بي پوري پکښي راتلای شي. DDRريمونه هم څوډوله لري DDR1,DDr2,DDR3:

**ريم**RD: ارډي ريمونه څلورم اودريم پينټيم کې استعمالېږي
.ارډي رېمونه يوازي کارنه کوي بايد جوړه وي.



## Processor (پروسیسر)

پروسیسر د کمپیوټر اساسي برخه دی، چې د کمپیوټر مرکزي برخه بلله کیږي. د محاسبو او نورو اقداماتو د ترسره کولو مرکزي اله پروسیسر دی. د پروسیسر د ظرفیت د اندازه کولو واحد Hertz دی چې، په Hz سره ښودل کېږي.

Hz هیرتز: یو دورپه یوه ثانیه کې پوره کولو ته Hz وایي. پروسیسر له ۱۰۰MHZ څخه بیا تقریباً ۲، ۳GHz پوري راغلي یو Giga hertz مساوي کیږي له ۱۰۰۰ میلونه Hz سره. پروسیسر څو ډوله لري د مثال په ډول:

Intel
Celeron
AMD
Cyrix

پروسیسر د تېزوالي (Speed) له نګاه څخه هم مختلف ډولونه لري: د بیلګې په ډول انټل پروسیسر د تیزوالي له نظره پیژنو:

Pentium 1 (اول پینټیم)
Pentium 2 (دوهم پینټیم)
Pentium 3 (دریم پینټیم)
Pentium 4 (څلورم پینټیم)
Dual core (ډیول کور)
Core 2 Due (کور۲ډو)
Core I 3 (کورای تري)


Core I7 (کورای سیون)

## پاورسپلایي(Power supply unit)

پاورسپلاي (PSU)دکمپوتر داخلوي پرزه ده. چې متناوب(AC)برق په مستقیم (DC)برق ته بدلوي اومخلتف ډولونه لري ACبرق 110او۲۲۰غواړوي DCیعني Outputبرق یې سره متفاوت وي.

LAN Card (Local Area Network)

کله که موغونښتل دوه یا زیات کمپیوټرونه سره وصل کړو له لن کارډ څخه کاراخلو.اوس چې کوم دDSLپه نوم مودیم راغلی دي هغه هم دلن کارډ له لاري کمپیوټرسره تړل کیږي.


TD1622C

.

# دوهمە

# برخـــــــە

# لړلیک

دوينډوزاوډرايورانسټالېشن ........ 61
دهارډيسک دپارټيشن ګټې........ 61
دهارډيسک پارټېشن ........ 61
دايکسفي وينډوز په واسطه پارټيشن ........ 62
دوينډوز ايکسفي انسټالېشن........ 67
دډرايورونو انسټالول........ 74
له انټرنيټ څخه دډرايور ډاونلوډ (کښته) کول ........ 87
Free GX620 Driver Download ........ 89
وينډوزسيون۷ ........ 100
دوينډوزسيون (۷) انسټالېشن........ 100
د وينډوزسيون ۷ په واسطه پارټيشن ........ 106

# دوینډوزاوډرایور انسټالېشن

## دهارډیسک پارټیشن څه ته وایي؟

دهارډیسک پارټیشن یاهارډیسک په دوویازیاتو برخو ویشلوته پارټیشن وایي.

## دهارډیسک دپارټیشن ګټې

دهارډیسک پارټیشن یا په برخوویشل ډېر مهم دی او هغه له دې امله که چیري زموږ هارډیسک یوه برخه وي، زموږ ډاټا اووینډوز دواړه به په همدي یوه برخه کې وي. کله که موغوښتل چې دکمپیوټر وینډوز بدل کړو،نوپه دې صورت زوړوینډوز بایدفارمیټ کړو،ترڅونوی وینډوز انسټال کړو. اوس که چیري کمپیوټرهارډیسک یوه برخه وي، زموږډاټاهم ورسره فارمیټیږي یعني له منځه ځي.

که چیري دهارډیسک برخې تریوې زیاتي وي، نوپه دې صورت کي که اوله برخه فارمیټ شي اوانسټالیشن پکښې وکړو،نو په دوهمه برخه کې به ډاټامحفوظه وي.


## دهارډیسک پارټېشن

دهارډيسک پارټېشن دوينډوزپه واسطه کېږي او همدا ډول ځيني خاص پروګرامونه شته چې دهغو په واسطه هم پارټېشن کيدای شي.لکه:,DM(Disk manager) partition magic.


## دايکسفي وينډوز په واسطه پارټيشن

دايکسفي پارټيشن لپاره دايکسفي سی ډي ته ضرورت شته. لومړی ايکسفي، سي ډي روم ته وردننه کوو.دسي ډي په داخلولو سره کمپيوټر له سي ډي روم څخه بوټ Boot کوو.


**بوټ** : دبوټ په واسطه موږ.کولای شو،مميوري انتخاب کړو،چې لومړی کمپيوټرله کومي ميموري څخه شروع شي.مثلاً،دکمپوټر دچلانديدو بټن کېکاږو،لومړی بايد کمپيوټر له ومي ميموري څخه چلاند شي.مثلاً،که وغواړو لومړی هارډيسک چلاند شي په بوټ مينوکې هارډيسک انتخابوو اوکه چېري موغوښتل چې لومړی سي ډي چلانده کړو،په سی ډي باندې انټر وهو. دبوټ مينو په مختلفوتکمو راځي،په اکثرو مادربورډونوکې پهF12 تکمه راځي،بعضي بورډونوکې دF9اوEscپه بټن هم راځي.دمثال په ډول ډيل کمپيوټرکې دهارډيسک پارتيشن کوو.دکمپيوټر چلانديدوبټن کېکاږو او بيا دF12 تکمه وهو، دبوټ مينيوراځي.




دبوټ په مینیوکې په دریمه  لیکه سي ډي روم باندې دانټربټن وهو. سی ډی اخلي اولیکل کیږي ( Press any key…).




ددې لیکي په لیدو سره په کیبورډ کې یوبټن کېکاږو اوسي ډي روانیږي،دشني صفحي په لاندینۍ برخه کې لیکه مسلسل بدلیږي، ترڅوچې ودریږي اوبیالیکل کیږي.





ENTER=Continue-۱

R=Repair-۲

F3=Quit-۳

۱-انټروهویعني لومړی اپشن انتخاب وو.



Windows XP Licensing Agreement

END-USER LICENSE AGREEMENT FOR MICROSOFT SOFTWARE
WINDOWS XP PROFESSIONAL EDITION SERVICE PACK 2

IMPORTANT-READ CAREFULLY:
This End-User License Agreement ("EULA") is a legal agreement between you (either an individual or a single entity) and Microsoft Corporation or one of its affiliates ("Microsoft") for the Microsoft software that accompanies this EULA, which includes computer software and may include associated media, printed materials, "online" or electronic documentation, and Internet-based services ("Software"). An amendment or addendum to this EULA may accompany the Software.
YOU AGREE TO BE BOUND BY THE TERMS OF THIS EULA BY INSTALLING, COPYING, OR OTHERWISE USING THE SOFTWARE. IF YOU DO NOT AGREE, DO NOT INSTALL, COPY, OR USE THE SOFTWARE; YOU MAY RETURN IT TO YOUR PLACE OF PURCHASE FOR A FULL REFUND, IF APPLICABLE.


1. GRANT OF LICENSE.
Microsoft grants you the following rights provided that you comply with all terms and conditions of this EULA:

1.1 Installation and use. You may install, use, access, display and run one copy of the Software on a single computer, such as a workstation, terminal or other device ("Workstation Computer"). The Software may not

F8=I agree ESC=I do not agree PAGE DOWN=Next Page

په پورته صفحه کې د F8=I agree ليکل شوی دی. د F8 تکمه
په کيبورډ کې پيدا کوو او کيکاږو.

زموږ د هارډ ډيسک پارټيشن ښکاره کېږي.





په پورته صفحه کې C=Create Partition ليکل شوی
دی، په کيبورډ کې د C تکمه کيکاږو، د C تکمې په کېکاږلو


سره موږکولای شو ،په پارټیشن کې تغیرراولو.مثلاً ،که چیري وغواړوچې ۸۰ جي بي هارډیسک په څلوروبرخو وویشو ،یعني هره برخه ۲۰جي بي شي،نوپه دې صورت کې لومړی لیکل شوی نمبر(۷۸۱۲۰) ړنګوو اوپرځای ۲۰۰۰۰ لیکو اودانتربټن وهو ،د C برخه (ډرایو ) ۲۰جي بي شوه. پاته نوره دهارډیسک برخه کښته لیکي ته ځي .لاندي راځو او بیاهم دCبټن په کیبورډ کې کېکاږو اوزوړنمبر پاک او پر ځای بیا هم ۲۰۰۰۰ لیکو اوانتروهو. اوس Dډرایو هم جوړشو. نورپاتي شمیره دریم لیکي ته کښته کېږي دریمې لیکې ته ورځواوزړه شمیره ړنګوو او پر ځای ۲۰۰۰۰ لیکو او دانتربټن وهو ،دEبرخه هم جوړه شوه،پاته نور دهارډیسک څلورمي لیکي ته ځي.څلورمي لیکي ته ځواوپه لیکل شوې شمېره انتروهو ،تغیرنه راولو ځکه چې څلوربرخي جوړه وو اودا څلورمه (اخري برخه) ده.اوس زموږپه هارډیسک کې څلور برخې جوړي شوې.

# دوینډوز ایکسفي انسټالېشن

دوینډوز ایکسفي دانسټالیشن لپاره بیا هم ضرور دی تر څو لومړی کمپیوټر له سي ډي روم څخه بوټ کړو.




Press any key… چې کله ښکاره شي بیا هم په کیبورډ کې یو تکمه وهو.



په شنه صفحه کې بیا هم خطونه مسلسل بدلیږي تر څو ودریږي.

د انټربټن وهو.

د F8تکمه وهو.

که چیري زوړ ویندوز وي،نو په دې صورت کې یوازي د C: پارتیشن ښکاره کېږي.

اولاندي لیکل شوي وي Escاو R to Riper.


لومړی:که چېري موږ غوښتل چې زړه ویندوز رپیر یا ترمیم کړو د Rتکمه کیکاږو او انستالیشن شروع کېږي.

دوهم :که چیري موغوښتل چې زوړویندوزفارمیټ یعني ختم کړواونوی ویندوز انستال کړو،نوپه دې صورت کې Escپه کیبورډ کې کیکاږواوزموږ مکمل پارتیشن ښکاره کېږي.

C برخي ته ورځواوپه کیبورډ کې د انټرتکمه وهو.


څلوریا پنځه لیکي ښکاره کېږي.

په اوله لیکه باندې د انټر تکمه وهو.





بیا دصفحي په اخیرلیکل کېږي F=Formatبیا په کیبورډ کې Fتکمه وهو.


که چیري C=Continueولیکل شو دCتکمه کیکاږو دCبرخي فارمیتېدل روانیږي.




کله چې Cفارمیټ شي بیا زیره لیکه شروع کېږي اوفایلونه کافی کیږي تر۱۰۰پوري فیصدی پوره کېږي.




کله چې فايلونه مکمل شي بله سره ليکه شروع کېږي، دهغې په پوره کيدو سره کمپيوټر بند ېږي.





اوبيرته چلانديږي که چيري دچلانديدو په وخت کې Press any key. وليکل شي نوپه دې وخت کې کومه تکمه نه کيکاږو ،ځکه دتکمې په کيکاږلو ،انستال بيرته له سره شروع کېږي.


دکمپيوټر دبيا چلانيدلو وروسته۳۹ دقيقې ښکاره کيږي.




دقيقي كميږي كله چې ۳۳ دقيقى راورسيدې،بله صفحه راځي.په دې صفحه كي Next كليک كوو ، بياچوكاټونه راځي په اول چوكاټ كې نوم ليكواوبيا Next كيكاږو. بيا پنځه خانې راځي په دې خانوكې سريال نمبريا CD key ليكو.




سریال نمبرمعمولاً دسي ډي په پوښ لیکل شوی وي، دسریال نمبر له لیکلوورسته بیا Nextکیکاږوي اودوې درمز خاني راځي له هغوصرف نظرکوواوبیا Nextکیکاږو.



اوصفحه هم ختميږي په ځينو وينډوزنوکې څو دقيقي وروسته بيا هم صفحه راځي هغه صفحه Nextکوواو ختموو. دقيقي کميږي ترڅوختمي شي او د وينډوز انسټاليشن هم مکمل کيږي .کله چې انسټاليشن مکمل شي وينډوز چلانديږي په ډيسکټاپ يوازي Recycle ښکاره کيږي د My Computer اوMy documentدراوستلولپاره ستارمينو ته ورځوپه My Computer ښې کليک کوواو Show on Desktop انتخابوواوډاکومينټ هم په همدې ډول په سکرين راولو.




په لوړو کمپيوټرونوکې له انسټاليشن سره اواز Audioرنګ VGAاودلن کارډيا Network adapter ډرايور يا سافټويرنه انسټالېږي اودهغو بيل ډرايورونه راځي.
دهغوی دانسټاليدو وروسته اواز ،رنګ اولن کارډ برابريږي.

# دډرايورونو انسټالول

ډرايورونه په څو طريقوسره انسټاليږي:


۱-که چيري زموږډرايورونه په سي ډي اوياهم په کومه بله ميموری کې وي اوموږ ته زموږدکمپيوټر ډرايورمعلوم وي اوسيټ اپ ياد انسټاليدو ايکن هم ورسره وي نوپه دې صورت کې ددغه ډرايور په سيټ اپ باندې کليک کوو او Next، Next کيکاږو ،ډرايورانسټالېږي او د ډرايور له انسټاليدو ورسته کمپيوټرريسټارټوو.





۲-که چيري موږ ته زموږ ډرايور معلوم وي خو سيټ اپ يا دانسټاليدلو ايکن ونه لرې، يوازې نوري فايلونه يې موجود وي، په دې صورت کې Control panel کنټرول پنل ته ورځوو.




اوبیا سیستیم خلاصوو.





کله چې مو د سیستم صفحه خلاصه کړه په دې صفحه کې هارډویر کیکاږو.





دهارډويرپه صفحه کې په ډيواس مينيجر کليک کوو اوليسټ راځي.

په نوموړي ليسټ کې چې کوم ډرايور انستال شوي نه وي په زيړخط سره د سواليه نښه ورکړل شوې وي.





هرډرایور چې انستالیدل وغواړوپه هغې لیکي ښئ کلیک کوواو ...Update Driver کیکاږو،دبیلګي ٍپه ډول مورږ کمپیوټر ته غږ ورانستال ووپه لومړی لیکه Audio Device on High Definition Audio bus باندې ښي کلیک کوو او Update Driver کیکاږو.





بله صفحه خلاصيږي  په دې كي دوي خالي خاني دې دوهم خانه انتخابوو او Nextكيكاږو .




دNextپه کیکاږلوسره ثلور خاني راځي اخیره خانه کې کلیک کوواو Nextکیکاږو.





په لاندې صفحه کې په Sound, Video and game controllersباندې کلیک کوو اوبیا Nextوهو.





بله صفحه راځي او ...Have Disk کيکاږو.




د Browse اپشن کیکاږو.




کله چې موپه Browseکلیک وکړبیا په کمپیوټرکې خپل مطلوب ډرایور پیداکوواو کلیک په کوواوبیاپه Open کلیک کوو.





بیا په Okکلیک کوو.




او په Next کلیک کووفایلونه کافي کېږي.








بیا په Finish کلیک اوډرایورانستالیږي. کمپیوټر ریستارټ کوو.


VGA, Ethernet Controller, Modem هم په همدې ترتيب انستالېږي،صرف د ساونډ ډرايور پرځای دهريوه خپل ډرايورانتخابوو.

۳-که چېري موږته زموږ ډرايور معلوم نه وي اوپه سي ډي کې ډېر ډرايورونه وي،موږغواړو چې خپل دکمپيوټر ډرايور پيدا کړو ،نوپه دې صورت کې له لاندی طريقي څخه کاراخلو.


بيا هم کنټرول پينل ته ورځو





سيستم ته اوبيا ډيواس مينجر خلاصوو.




اولیست راکوي، کوم ډرایورونه چې نه وي انستال شوي په زیړرنګ سره دسوالیې نښان لري.کوم ډرایورچې غواړو انستال کړو ښۍ کلیک اوپه ...Update Driver باندې کلیک کوي.




دوې خاني راکوي لومړی خانه انتخابواوپه Next کيکاږو اودډرايورپسي په سي ډي کې ګرځي که چيري په سي ډي کې ډرايورموجودي ډرايور پيداکوي ،بله صفحه راکوي، په صفحه کې دوه اپشنه راکوي يوه ته ليکل شوي وي Stop Installationاوبل ته ليکل شوي وي Continue Anywayپه دوهم اپشن کليک کوو.





ډرايورانسټاليږی او Finishباندې کليک کوو.

## له انټرنيټ څخه دډرايور ډاونلوډ(کښته) کول


که چېري له موږ سره ډرايورموجود نه وي او انټرنيټ ته لاس رسی لرو،نوپه دې صورت کې دکمپيوټر ماډل پيدا کوو،دکمپيوټر معاډل معمولاً په کيس (کمپيوټر پوښ) باندې ليکلی وي،که چيري په کيس باندې ليکلي نه وي، نو بيا

ستارټ مینوته ورځو،ال پروګرام کلیک کوو بیااکسیسوریز وروسته سیستم ټولز،بیا سیستم انفارمیشتن ته:

All Programs-Accessories-System Tools –System Information




دسیستم انفارمیشن په صفحه کې System Modelپیداکوو.





دغه ماډل بیاد Googleپه ویب پاڼه اویاکمپیوټرچې دکومې کمپنې جوړوي دهغې کمپنې په ویب پاڼه کې ورکوو،مثلاً دGoogleپه ویب پاڼه کې داسې لیکو.

Free GX620 Driver Download


په هره ویب پاڼه کې چې ددې ماډل ډرایور وي، دهغوویب پاڼو ادرسونه دGoogleویب پاڼه په صفحه کې راځي.هغه خلاصه وواومطلوب ډرایور ډاونلوډ (کښته) کوو.

ځینې کمپیوټرونه په خپلو ویب پاڼو کې مفت ډرایورونه لري.دبیلګې په ډول دDellکمپیوټرونوډرایورنه د WWW.Dell.com په ویب پاڼه کې شته.


ددې کمپیوټرونودډرایورنولپاره دغه ویب پاڼه خلاصوو.




په دي ويب پانه کي Driver and Software اپشن کليک کوو.




په لاندې صفحه کې Support for Home Users په Driver & Downloads Homeکليک کوو.





دپورته اپشن په کيکاږلوسره بله صفحه خلاصيږي په دې صفحه کې Yesاو No ښکاريږي، د Yesکمانډ لاندې چوکاټ ښکاريږي.په دې چوکاټ کې دکوم کمپيوټر ډرايور ته چې مو ضرورت وي دهغه ماډل ليکو او انټر وهو. دهغه کمپيوټر مربوط ډرايورونه راولي.


د Noکمانډ لاندې درې ورې خانې راځي په دريمه يعنې اخري خانه کې کليک کوواو Continue کيکاږو.




ددي كماندپه كيكاږلوسره بله صفحه خلاصيږي په دي صفحه كي Desktopكليک كوو.




په ډیل ډیسکټاپ سیستمونوکې کې مختلف ډولونه راځي په لاندې صفحه کې سیستم ډول انتخابوو.GX620ماډل د Optiplex په ډول کې راځي Optiplexډول کیکاږو .





په هرډول کې کمزوراوزوروسیستمونه وي، د Optiplexپه ډول کې هم زورواوکمزوري شته اوپه ترتیب سره یې نمبرپورته کیږي،مثلاً:

GX240,GX260,GX270,GX280,GX620,GX745,GX755.


موږ چې دکوم ډرایورپه لټه کې یو،دهغه GX620دی په لاندې لیست همدغه ماډل انتخابوو.





په GX620 کلیک کوو او بیا چوکاټونه راځي، لومړی چوکاټ کې دوینډوز انتخاب کوو. دهروینډوز لپاره چې دډرایور ضرورت وي هغه انتخابوو، مثلاً وینډوز ایکسفي انتخابوو.




بیا ډرایورانتخابوو،مثلاً که چیري زموږ کمپیوټرکې VGAانسټال شوې نه وي،په Video ډرایورکلیک کوو،که چیري غږ انسټال شوی نه وي، په Audio ډرایورکلیک کوو.





په ډرایور چې مو کلیک وکړبیا په Download کلیک کوو.





بیا Download Now کیکاږو.




بله وړه صفحه ښکاره کيږي Cancalاو Save file په ليکل شوی وي Save File کيکاږواوډاونلوډ(کښته کيدل)شروع کيږي.




کله چې د ډرایور ډاونلوډیدل پوره شي، د ډرایور سیټ اپ په ډیسکټاپ ،ډاکومینټ او یا کوم بل ځای چې موورته انتخاب کړی وي، پروت وي، **هغه خلاصوو** بیا په Run کلیک کوو.



بیا په Yes کلیک کوو او د ډرایوانسټالیشن شروع کیږي.



# وینډوزسیون ۷

وینډوزسیون نوی اپریټینګ سیسټم دی.ډیرسهولتونه لري، په کمزوري کمپیوټر کې کارنه کوي.لوړ کمپیوټرونه ورته ښه دي، خصوصاً په کور۲ډو او تر دې لوړو کي، ډرایور هم خپله انسټالوي.

په کوم کمپیوټرونوکې چې موږ وغواړو سیون انسټال کړو دهغه کمپیوټرریم باید حداقل1GB وي، کوم ډرایوکې چې موږ وینډوز انسټالوو، بایدتر۲۰ جي بي کم نه وي.له دې امله چې وینډوزخپله۱۲.۵جي بي ځای نیسي اوهمداډول دمادربورد ماډل هم بایدتر۹۱۵کم نه وي که چیري وي کمپیوټر کمزوري کوي.


## دوینډوزسیون (۷) انسټالیشن


دوینډوز۷دانسټالیشن لپاره، دوینډوز سیون سي ډي، سي ډي روم ته وردننه کوواوبیا کمپیوټرله سي ډي روم څخه بوټ کوو. مثلاً په HPکمپیوټرکي دهارډیسک انسټالیشن کوو.

لومړي چې موکمپیوټر چلاندکړ دF9=Boot Menu یعني دF9تکمه په کیبورډ کیکاږواوبوټ مینیوراځي په سي ډي روم انټروهو.اولیکل کیږي.




دليکې په ښکاره کيدو سره په کيبورډ کې يوه تکمه کيکاږو
او انستاليشن شروع کيږي.






اوبیا Install nowکیکاږو .





بیا Nextکیکاږو.





بیا خالي خانه راځي، ورته لیکل شوی وي:

( I accept the license terms )دغه خانه کې کلیک کوو


او بیا Nextکیکاږو.




بله صفحه راځي په دې صفحه کې په دوهم اپشن Custom [advanced]ورته لیکل شوی دی کیکاږو.





زموږ هارډیسک ښکاره کیږي که چیري په هارډیسک کي مخکې هم ویندوز موجود وي،لومړی زوړ ویندوز فارمیټ کوو ،دوینډوزد ختمیدولپاره لاندې لیکل شوي اپشن ( Drive advanced (Option باندې کلیک کوو.




بله صفحه راځي په دې صفحه کې په Format اپشن کليک کوو.




Cancel او Ok راځي Ok کيکاږو زوړ وينډوز له منځه ځي.





اوبیا Nextکیکاږوانستالیشن دوام پیدا کوي.





## د وینډوزسیون ۷ په واسطه پارټیشن

دهارډیسک دپارټیشن یعني دهارډیسک دبرخو دزیاتوالي او کموالي لپاره باید Drive Option(advanced) کلیک کړو.
دوه حالته لري:

لومړی :که چیرې موږمخکې پارټیشن نه درلودنو په دې صورت کې زموږ هارډډیسک ته ( Unallocated Space ) "معنی هارډیسک فارټیشن نه لري "لیکل شوی وی.





دپارټیشن دجوړیدلولپاره په Newکلیک کوو.زموږ دپارټیشن ایم بي په خانه کې ښکاره کېږي،اوس زموږ کاردی چې :Cڅومره جوړه وو او:Dڅومره جوړه وو.فرضاً که موږ غوښتل چې :C شل جي بي جوړه کړو په خانه کې شل زره۲۰۰۰۰ایم بي لیکواو Applyباندې کلیک کوو :Cجوړیږي.




په همدې ترتیب د :D ډرایو هم جوړه وو.


دوهم: که چیري پارټیشن جوړشوی وي، خویوپارټیشن وي اوغواړو چې ډېر يې کړو اویاډیر وي،موږ غواړو چې کم یې کړو نوپه دې صورت کې زوړ پارټیشن لومړی له منځه وړو.دپارټیشن دله منځه وړلولپاره دDeleteپه کمانډ کلیک کوو.





کله چې موپه ډیلیټ کلیک وکړ د Cancel او Ok وارنینګ راکوي، Ok کېکاږو او زوړ پارټیشن ختمیږي.د زوړ پارټیشن له ختمیدلو وروسته د Next کمانډ فعالیږي په دې کمانډ کلیک کوو او نوی پارټیشن جوړه وو.

کله چې موپارټیشن جوړ کړ.Next باندې کلیک کوواو انسټالیشن شروع کیږي.

انسټالیشن قدم په قدم پخپله مخته ځي ترڅو چې کمپیوټر پخپل بندشي اوبیرته چلاندیږي اوبیا Completing installation هم پوره کیږي.





په دې صفحې کې داخيري ليکي په پوره کيدو سره وينډوز ريسټارټيږي .دوې خاني راځي، په لومړۍ خانه کې دخپلې خوښي نوم ورکوو.




بیا Nextکيکاږو.بله دفاسورډ(رمز) خانه راځي هغه هم Nextکوو.





اوبیادCD key خانه راځي هغه هم Nextکوو.




بله صفحه راځي په دې صفحه کې لومړی اپشن انتخابوو.




اوبیادتاریخ اووخت صفحه راځي هغه اعیاره وواوNextکیکاږو.




له لیږ انتظار وروسته انستالیشن مکمل کیږي.

پای

..............................

.....................

.................

..........

....

...

.

Download from:aghalibrary.cm